**د میدان وردګو ولایت د ولایتي شورا د کاندیدانو د شکایتونو په اړه وروستی پرېکړه**

د ۱۳۹۳ کال د ولایتي شوراګانو له ټاکنو وروسته د ټاکنو د قانون د ۶۳ مې مادې د (۲ ) فقرې او د ټاکنیزو شکایتونو او اعتراضونو د ثبت اورسیده ګی طرزالعمل د ۶ مې مادې د حکم پر بنسټ د میدان وردګو ولایت په انتخاباتي حوزې پورې اړوند (۲۸ ) مورده ټاکنیز شکایتونه د انتخاباتي شکایتونو په خپلواک کمیسیون کې ثبت شوي دي. د دې شکایتونو له جملې څخه ( ۴ ) مورده يې د ټاکنو د ورځې د تخلفاتو او درغليو اړوند وو، چې د رایې ورکولو پر مهال او د ټاکنو د ترسره کېدو له ورځې وروسته د ۴۸ ساعتونو په موده کې د کاندیدانو او د هغو د استازو له خوا د ټاکنیزو شکایتونو په خپلواک کمیسیون کې ثبت شوي او ۲۴ ) شکایتونه د لومړنیو پایلو په اړه وو، چې د پایلو تر اعلان وروسته د ټاکنیزو شکایتونو د ثبت او رسیده ګی د طرزالعمل د ۱۴مې مادې له مخې د ۲۴ ساعتونو په موده کې د کاندیدانو له خوا ثبت شوي دي.

د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون ثبت شوي شکایتونه د انتخاباتو د قانون د ۶۶ مې مادې د (۱) فقرې، د ذکرشوي قانون د ۶۳ مې مادې د (۲) فقرې او د ټاکنیزو کمیسیونونو د تشکیل، دندو او واکونو قانون د ۲۶ مادې د (۸) فقرې او د ثبت اورسیده ګی طرزالعمل د ۳۰ مې مادې پر بنسټ د ۱۵ / ۳ / ۱۳۹۳ نېټې په علني غونډه کې، چې د انتخاباتي کمیسیونونو د تشکیل، دندو او واکونو قانون د ۲۴ مې مادې د (۳) فقرې او د ثبت او رسیده ګی طرزالعمل د ۲۴ مې مادې حکمونوته په پام سره دکاندیدانو، سیاسي ګوندونو، مدني ټولنې او ټولیزو رسنیو د استازو او د ملي او نړیوالو څارونکو او کتونکو په حضور کې وڅېړل او د معترضینو د ټولو شکایتونو له اورېدو وروسته يې د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۱ ) فقرې پر بنسټ د ټاکنیزې حوزې په کچه د شکایت کوونکو کاندیدانو په غوښتنه د هغو انتخاباتي محلونو د رایو د تفتیش او بیاشمېرلو تصمیم ونیوه، چې په اړه یې شکایتونه ثبت شوي دي.

د میدان وردګو ولایت د ولایتي شورا د رایو د محلونو د تفتیش چارې د ټاکنو د قانون د ۵۵ مې مادې د حکم په رعایت سره په لومړنیو پایلو کې د ټاکنو د کمیسیون له خوا د بریالیو اعلان شویو او معترضو کاندیدانو تر څارنې لاندې ترسره شوې.

د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون د ا ثباتیه مدارکو د نه موجودیت په اساس د ولایتي شورا په ټاکنو باندې د ټولو ثبت شویو شکایتونو په رد او د ذکر شوي ولا یت د ولایتي شورا د ابتدائي پایلو د تائید پرېکړه وکړه.

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
کمیسیون مستقل شکایات انتخاباتی

دافغانستان اسلامی جمهوري دولت
د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون

**Islamic Republic of Afghanistan**
**Independent Electoral Complaints Commission**

د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون دارالانشاء موظفه ده، چې دا فیصله د ټاکنو د قانون د ۵۹ مې مادې د (۳) فقرې او د ذکرشوي قانون د ۶۶ مې مادې د (۴) فقرې د حکم پر بنسټ د تطبیق لپاره د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته رسماً ابلاغ او د اجراء په اړه یې د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون ته رپوټ ورکړي.

پیغمبر قل دوغن غړی

عزیزالله آریافر غړی

ریدا عظیمی مرستیاله

محمد نادر محسنی منشي

عبدالستار سعادت
رئیس

Add: Kabul, Shash- Darak opposite Askari Club
Independent Electoral Complaints Office.

پته: کابل، نهمه ناحیه، د شش درک ګولایی، کور نمبر 1 او 2
دټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون